2015-11-01

Restaurang- och livsmedelsprogrammet



# د رستوران او خوراکي توکو پروګرام

PASHTO

Skolverket　Utbildningsinfo

**د رستوران او خوراکي توکو پروګرام د حرفوي پروګرامونو د جملې څخه دی چې د حرفوي زده کړو برې لیک ترلاسه کولو لپاره زمینه برابروي.**

د رستوران او خوراکي مـوادو پروګـرام د هغـه وګـړو لپاره دی څـوک چې میلمنو او مشـتریانو ته د خـوړو تهیـه کولو پـورې تړلـي حرفـو د مثال په توګـه نانوایـي، رسـتوران او د خوراکي توکو دوکان کې پـه عملي توګه دنـده تر سـره کولو سـره لیوالتیـا لري.

تاسـو کولـی شـئ د دې پروګـرام څخـه د فراغـت سمدسـتي وروسـته کار پیـل کـړئ یـا پـه حرفـوي پوهنتـون کې لـوړې زده کـړې سـر تـه ورسـوئ. همـدا راز تاسـو فرصت لرئ چې پـه پوهنتون کې تحصیـل کولـو لپـاره اضافـي کورسـونه هـم غـوره کـړئ.

## دوه بېلابېلې څانګې

### نانوایي او شیریني پزي

- تاسـو بـه د نانوایـي او خـوړو توکـو د صنعـت په اړه پوهه ترلاسـه کـړئ. نوموړې څانګه تاسـو لپـاره زمینـه مسـاعدوي تـر څـو د مثال پـه توګه پـه نانوایي او شـیریني پزۍ کـې کار وکړئ.

### تازه خوراکي توکي، شیرینی باب او د خوړو تهیه کول

- تاسـو بـه د خوراکـي توکـو، خرڅـلاو، د خامـو توکـو انتخابولـو، تیـاری نیولـو، د څښـاک توکـو، میـز جوړونـي او د خـوړو مخـي ته ایښـودلو په اړه پوهه ترلاسـه کـړئ. دا څانګه ستاسـو لپاره زمینـه مسـاعدوي چـې د مثال پـه توګـه د تـازه خوراکي توکو یـا د شـیریني بابو پـه برخه کې کار پیـدا کـړئ.

### پخلنځای او چوپړې

- تاسـو بـه پـه رسـتوران کـې د پخلي کولـو، چوپړي کولـو او د بـار د وظیفي په اړه پوهه ترلاسـه کـړئ. دا څانګـه ستاسـو لپـاره زمینـه برابـروي چـې د مثال پـه توګـه د اشـپز یـا د رسـتوران خدمتـګار پـه حیـث کار وکـړئ.

### تاسو په دې پروګرام کې لاندې مهارتونه ترلاسه کولی شئ

تاسـو بـه پـه دې پروګـرام کـې د رواجي او عصري لاسـي صنایعـو میتودونـو، د خوراکي توکو تولید، پخلـي، غذا تهیـه کولو، خـوړو، خرڅلاو، خدمت، پاکوالـي، د خوراکي توکو پیژندنـې او د مخصوصو خـوړو پـه اړه پوهـه ترلاسـه کـړئ. تاسـو بـه د پلان جوړولـو، اداري، اقتصاد او د شـرکت چـارې په مـخ بیولـو پـه اړه پوهـه ترلاسـه کـړئ. تاسـو بـه د مشـتري سـره د ښـه سـلوک او د خدمت پـه ډګر کـې خپلـه وړتیا غښـتلې کـړئ.

پـه نومـوړي پروګـرام کـې د کاري چاپیریـال چارو باندې ډېـر تاکید کیږي، ترڅو پـه کار کې د ژوبلې مخنیـوی او د روغ صحـت تضمین لپاره لاره هواره شـي.

### نوموړی پروګرام په لاندې ډول ترتیب شوی دی

پـه حرفـوي پروګرامونـو کې د ثانوي دورې دا عمومي مضمونونه شـامل دي: انګلیسـي، تاریخ، بدني روزنـه او روغتیـا، ریاضي، طبیعـي علـوم، دینـي علـوم، ټولنیـز علوم، او سـویډني ژبه یا سـویډني د باندنـۍ ژبـې پـه حیـث. پـه حرفـوي پروګرامونو کې زیاتـره حرفوي مضمونونه لوسـتل کېـږي چې د پروګرام ځانګـړي مضمونونـو پـه نـوم یادېـږي خـو د هغـو مضمونونـو د جملـې څخه چـې وړاندې مـو پـه ابتدائیه ښـوونځي کـې لوسـتلي وي، یواځـې ځینـې مضمونونه لوسـتل کېږي.

د پروګرام ځانګـړي مضمونونـه پـه دا ډول دي: د پاکوالـي پوهـه، د خوارکـي توکـو او تغذیـې اړه پوهـه، د خـوړو او د رسـتوران ځانګـې پـه اړه پوهـه، خدمـت او چلنـد.

تاسـو بـه فرصـت ولـرئ چـې د خپلـې خوښـې پروګرام کـې تخصـص او ژوره پوهه ترلاسـه کـړئ. دا مرحلـه د پروګرام اختصاصـي مضمونونـو پـه نـوم یادېږي. د مربوطه ښـوونځي سـره اړیکه ونیسـئ چـې د اختصاصـي مضمونـو لپـاره کـوم مضمونونه وړانـدې کوي.

تاسـو اختیـاري مضمونونـه هـم لـرئ چـې لـه دې لارې خپـل د خوښـې مضمـون لوسـتلی شـئ. د ښـوونځي څخـه پوښـتنه وکـړئ چـې کـوم کورسـونه لـري.

### عملي کړنلارې

د نومـوړي پروګرام پـه بهیـر کـې به تاسـو په واقعي شـرایطو کې عملي زده کړه ترلاسـه کړئ. تاسـو بـه وکولـی شـئ چـې اوړه پـه اوړه کار او د مشـتریانو او میلمنـو سـره ښـه چلنـد زده کـړئ. نظري اوعملـي زده کـړې بـه سـره غبرګـې روانـې وي. تاسـو بـه پـه اقدام کـې د مخکښ کېدلـو، د مختلو شـرایطو سـره ځـان برابرولـو، پـام کولـو، نوښـت کولـو او پـه خپلواکه توګه کار کولـو کـې تمرین ترلاسـه کـوئ. تاسـو بـه د کار پـلان نیـول، پلـي کـول او د کار کیفیـت تضمینـول ترسـره کوئ.

### د ثانوي دورې پایلیک

تاسـو بـه د رسـتوران او خوراکـي توکـو پروګرام پـه پـاي کـی پـه خپله خوښـه شـوي حرفـوي ځانګه کـې د ثانـوي دورې پایلیـک لیکـئ. چـې پـه دې توګه بـه د دې ثابتولـو فرصـت ولرئ چې آیا تاسـو ټـول هغـه مهارتونـه ترلاسـه کـړي دي چـې پـه خپله غوره شـوي حرفـه کې پـه کار بوختېـدو کې به ورتـه ضـرورت ولرئ.

### د کار په ځای کې عملي زده کړه

د دې پروګـرام یـو څـه برخـې د کار یـو واقعـي ځـای کـې پـه عملـي بڼـه ترسره کېـږي چـې مـوده بـه یـې لـږ تـر لـږه ۱۵ اونـۍ وي او دا دوره د کار پـه ځـای کـې د عملـي زده کـړې (APL) پـه نـوم یادېږي. دا د نومـوړي پروګرام یـوه اړینـه برخه ده. تاسـو به د عملـي زده کړې په بهیـر کې تجربه او د خلکـو سـره اړیکـې پیـدا کـړئ چـې د کار پسـې ګرځېدو په وخت کـې به ترې ګټـه پورته کړئ.

### تربیوي زده کړه

کـه چیـرې ښـوونځی ستاسـو پـه پروګرام کـې تربیـوي زده کـړې وړانـدې کـوي نو تاسـو کولی شـئ چـې ګټـه تـرې پورتـه کـړئ . دا پـه دې مانا ده چې تاسـو به هماغه پوهه ترلاسـه کوئ خـو د خپلې روزنـې لـږ تـر لـږه نیمـه برخـه بـه پـه یـو یـا د کار په ګڼ شـمېر ځایونـو کې ترسـره کوئ.

### د پام وړ

کـه چیـرې تاسـو د لـوړو زده کـړو شـرایط پـوره کولـو هوډ لـرئ نو اړینـه ده چې مخکـې له مخکې د خپلـو زده کـړو لپـاره یـو پـلان ونیسـئ. پـه داسـې حالـت کې بایـد د سـویډني ژبې یا سـویډني د باندنـۍ ژبـې پـه حیـث پـه مضمونونو کـې دوه اضافي کورسـونه او په انګلیسـي ژبه کـې یو اضافي کـورس ولولـئ. تاسـې تـل حـق لرئ چې د اختیـاري مضمونونو څخـه ګټه پورته کـړئ او  دا امکانات هـم شـتون لـري چـې د موقـع څخـه پـه اسـتفادې سـره د پروګـرام مـوده لاپسـې اوږده کـړئ. کـه

**د رسـتوران او خوراکي توکو پروګرام**

چیرې تاسـو وړانـدې پـه پوهنتـون کـې د لـوړو زده کړو هـوډ لرئ نو د لارښـوونې لپـاره د زده کړو او مسـلک لارښـود سـره اړیکه ونیسئ.

تاسـو تـل حـق لـرئ چـې د بدنـي روزنـې او روغتیـا او د هنري کورسـونو د جملې څخه یـو کورس د اختیـاري مضمـون پـه توګه هم خـوښ کړئ.